scottish refugee council

Pashto

# د کورنۍ بیایوځایوالی:

## غیر مهاجرین د پاتي کیدلو لپاره د غیر قطعي رخصتی سره

**لاندې معلومات به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو تاسو مخکې تر دې چه د خپل وکیل سره وګورۍ د خپلې کورنې د بیا یوځایوالي په اړه ټول هغه معلومات چه ستاسو لپاره اړین دي راټول کړي.**

که چیري تاسو د **پاتي کیدلو غیرقطعي رخصتي لري** او **مهاجر نه یاست**، او غواړئ چه ستاسود کورنۍ یو غړی برتانیا ته ستاسو سره د ګډ ژوند په موخه راشي نو تاسو ته اړینه ده چه لاندې خبرې ثابتي کړي:

- چه تاسو د پاتي کیدلو لپاره غیر قطعي رخصتي لري. د بیلګي په توګه ستاسو د مهاجرت په اړه اسناد.
- هغه اسناد چه ثابت کړي هغوی ستاسو د کورنۍ غړي دي. د بیلګي په توګه نکاح خط او یا د پیداښت/فرزندي سند او یا هم کورني انځورنه.
- او دا چه تاسو په منظمه توګه د هغوي سره په تماس کې یاست. د بیلګي په توګه د تیلفون کارتونه، لیکونه، د پیسو د لیږدوني سندونه.
- او تاسو کولای شي اوسنیو امتیازاتو ته په پام سره پرته د دې، چه تاسو نورې پیسې تر لاسه کړي هغوي ستاسو سره په برتانیا کښې ګډ ژوند وکړي. په اسانه ټکو کښې، یعني تاسو باید یو کافي لوی کور ولري چې ستاسو د کورنۍ د غړو د پاتي کیدولو ظرفیت ولري، او کار ولري. د مثال په توګه، د کار قرارداد او د معاشاتو سند، د کور قرارداد او ستاسو د ځمکې د ښتن لخوا یو لیکلی سند.

**ستاسو د کورنۍ غړی هم باید د برتانیا سفارت ته ثابته کړي:**

1) د میره/میرمنې/د تولنیز ملګري په صورت کښې[1] :
- چه دواړه او تاسو د 21 کلنۍ څخه لوړ یاست.
- او چه تاسو د ګډ ژوند د تیرولو په موخه یو د بل سره د ګډ ژوند یعني د میره او میرمنې/ تولنیز ملګري او یا هم د ملګرو[2] (همجنس باز) په د توګه د ګډ ژوند تیرلو په موخه او نیت یو د بل سره لیدلي او کتلي دي.

2) د ماشوم په حالت کښې(د فرزندي په ګډون):
- هغه 18 کالو کم عمر لري او واده یې نه دي کړي او مستقل ژوند کوي.
- په هر حالت کښې:
  - o دواړه والدین په برتانیا کښې ژوند کوي
  - o تاسو یوازې د ماشوم د پاملرنې او لویوني مکلفیت پر غاړه لري (د پیسو د لیږلو له لارې او یا د مهم پریکړو د اخستلو له لارې او یا هم د خپل ماشوم سره د منظمو اړیکو د ټینګولو له لارې).

3) د نورو کورنې غړو په حالت کښې:
- چه هغوی ستاسو والدین او یا نیکه او انا؛ زوی، لور، خور، ورور،ترور؛ تره یا ماما وي.
- ئەگەر باوکودایک یان باوە/دایە گەورە زۆرتر لە 65 ساڵ تەمەنیان نییە، بیسەلمێنن کە ئەوان لە خراپترین هەلومەرجی هەستیاریدا[3] بە تەنیایی دەژین، بۆ نموونە بە دەست نەخۆشیەوە لە رەنجدان یان زۆر لاوازن و بێ ئێوە ناتوانن کاروباری رۆژانەی خۆیان جێبەجێ بکەن؛ و
- دا چه هغوی د مالي نظره په تاسو پوري تړلي دي؛ او
- او دا چه د هغوی سره د مرستې کولو لپاره نور کسان نشته.

---

1 د هم جنسو اړیکه قانوني پیږدنه.
2 هغو چه واده یې نه وي کړي، باید واده ته ورته یې د 2 کالو لپاره اړیکي درلودلي وي.
3 د مهاجرت قانون، 317 پراګراف.

**نور مهم معلومات:**

- هر ډول اصلي سند باید په انګلیسي ژبه وژباړل شي.
- که چیرې ستاسو د کورنی غړی پاسپورټ او یا هم د پیژندګلوي (تذکیره) سند ولري، دغه کار به ستاسو د غوښتنلیک سره ډیره مرسته وکړي.
- ستاسو د کورنی غړي اوس په کوم حالت کښي ژوند کوي؟ د چا سره ژوند کوي؟ څوک ورسره مرسته کوي؟ او ولي هلته خپل ژوند ته دوام نشي ورکولای؟

**احتیاط:** په بهر کښي میشت د برتانیا سفارت ته باید د غوښتنلیک فیس ورکړل شي.

**هغه ګټور شواهد چه تاسو یی د مقرراتو د پوره کولو په موخه را ټولولای شي**

| د مقرراتو غوښتني | د شواهدو بیلګی |
|---|---|
| د پاتي کیدلو لپاره غیر قطعي رخصتي | ستاسو د مهاجرت په اړه اسناد<br>ستاسو د سفر په اړه سند |
| اړیکي/د کورنی برخه | ستاسو نکاح خط<br>د ماشوم د زیږدني/فرزندی سند<br>ستاسو د واده د مراسمو او یا کورني انځورونه |
| په منظم ډول د اړیکو ټنګول | د تیلفون کارتونه او یا ثبتوني لیکونه<br>د پیسو د لیږدولو سند |
| دقیق مالي ملاتړ | د کار قرارداد<br>د معاشاتو د ترلاسه کولو سند<br>بانکي تضیمن |
| مناسب هستوګني | د کور قرارداد<br>د ځمکي د څښتن لخوا سند |

**څوک مرسته کولای شي؟**

د سکاټلنډ د مهاجرینو کونسل د کورنیو سره د یوځای کیدو چوپړ نه وړاندي کوي، البته ستاسو قانوني وکیل کولای شي پدې اړه ستاسو سره مرسته وکړي، که چیرې تاسو وکیل نلري او یا هم خپل اوسنی وکیل تغیرول غواړی، نو مونږ کولای شو د وکیلانو د نومونو او پتو لیست ستاسو لپاره چمتو کړو.

لکه څرنګه چه پورته وویل شول، مهرباني وکړي داده شي چه تاسو ټولي اړیني غوښتني او شواهد لوستلي او دا چه دغه ټول معلومات ستاسو د غوښتني د ثبتولو وړاندي د پلي کیدلو وړ دي.

OISC

**The Scottish Refugee Council** 5 Cadogan Square,
(170 Blythswood Court) Glasgow G2 7PH
**د تیلفون وړیا شمیره: 0800 085 6087**
**بریښنالیک:** info@scottishrefugeecouncil.org.uk
**ویب پاڼه:** www.scottishrefugeecouncil.org.uk
د خیریه ثبت ګڼه: SC008639

scottish refugee council